پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»

# په پاکستان کی دکیڼ اړخو ګوندونو اوغورځنګونو لنډ تاریخچه

دوهمه برخه

# د پاکستان کمونیست ګوند

د پاکستان کمونیست ګوند ته نه یواځي دهند له کمونیست ګوند څخه کدرونه تر لاسه شوی بلکه دهغه ګوند څخه ایدیولوژی اوبا وروته هم په ارث رسید لي لکه د انقلاب دوه مرحلوی ایدیولوژی کوم چی د دی اندیښنی اونظریي په پام کی نیولو سره دغه ګوند د مسلم لیک دګوند سره یوځای شو ، مسلم لیګ یعنی هغه ګوند کوم چی د بورژوازی له خوا د فیودالانو دلاردانو پرضد ور څخه ملاتړ کید ل، حال داچی مسلم لیګ خپله دتل دپاره یو فیوډالی ګوند یا سازمان وه ، دغه فیوډالی ګوند (مسلم لیګ) ډیر ژر په دی بریالی شو چی خپل ګوند ښه سمبال کړی او په همدی وجهه وه چی د پاکستان کمونیستیا ن کوم چی ددوی په ګوند کی نفوذ کړی وه له خپل ګوند څخه وباسي او خپل ګوند تصفیه کړی،کمونیستانو کله چی دمسلم لیګ څخه شړل کیږی له دی نه چی د پاکستان کارګری طبقه دکارګری انقلاب دپاره وروزی،له بده مرغه دیوبل ډیر افراطی سازمان جوړولو ته زړه ښه کوی چی یی جوړ کړی اوبیا وروسته له یوه لنډه مودی څخه دنظا میانوسره په پیوستون کی غوښتل چي په کودتا لاس پوری کړی . په دی وخت کی د پاکستا ن کمونیست ګوند زیا د د بورزواژی ، لیبرال اړخ اوځانګی سره اړیکی لرل لکه د جنرال اکبر اودهغه د خواښی بیګم شهنواز سره،دیادونی وړمطلب دلته دادي چی دوغوښتل چي د نورو جنرالانو سره د دولت پرضد کودتا وکړي دوی یواځی دکودتا پرنقشه اوطرح باندی سره مشوره کول اومخکی له دی چی په کودتا باندي لاس پوری کړی دهغو پلان افشا شو کوم چي دغه کودتا اوس په تاریخ کی د راولپنډی دتوطي په نوم سره یادیږي ، دکودتا دطرحی له افشا کیدو څخه وروسته دپاکستان دولت دپاکستان د کمونیست ګوند پرفعالیتونو باندی بندیز ولګو ل اوهغه یی غیر قانونی اعلام کړ اودهغه په څنګ کي پرصنفی اتحادی اود محصیلینو پراتحادی باندی هم بند یزونه ولګول اودهغو فعالیتونه هم غیر قانونی اعلام کړل ، دپاکستان کمونیست ګوند د خپل موجودیت د فعالیتونو دممنوعیت په وخت کی یواځی (۲۰۰) غړی درلود . دغه ګوند د خپل ممنوعیت اود فعالیتونو دبند یز په موده کی یوه بله ګوند د آزاد پاکستان دګوند( دپاکستان مستقل ګوند ) په نامه جوړ کړکوم چي دغه نوی ګوند دافراطی ناسیونالیستواودهغه په سرکي د مین

افتخارعلی الدین له خوا رهبری کید ل ،وروسته له څه مودی څخه«۱۹۵۷» دغه دپاکستان آزاد گوند د یوشمیر نور لیبرال ترقی پسند کړیوسره په گډه یوبل گوند دعوامی ملی گوند (دخلقوملی گوند NAP) په نامه سره تشکیل کړل کوم چی ددغه نوی تشکیل شوی گوند پروگرام پرته له دی چي په انقلابی مواردوباندی ډېره ولگوی زیاتررېفورمیستی محتویا تو ته پام واړول لکه دامپریالیسزم سره په ضد یت ، سیکولاریزم، په منطقه کی خود مختار او د هیواد صنعتی کیدل . وروسته له هغه چي کمونیستانو د نورو سیاسیی حلقو اوکړیو سره یوځای شول نو دخپل دکمونیستي مستقل هویت څخه لاس پرسرشول اوبیا هیڅکله دکارگري طبقي دغورځنګ په پلوي نورڅه سازماند هی او تشکیلات ته لاس ورنوړل ، په کال (۱۹۵۸) کی هغه وخت چی سرمایه داری خپل دبحران لوړ څوکی ته ورسیدل نو په پاکستان کی هم لکه دنورو هیوادونو په شان کارگری غورځنګ سرراپورته کړل او په تظاهراتوسره کوڅو ته راووتل، کوم چي دغه کارگري غورځنګ دپاکستان په ټول قلمرو کی په لاريونونواوتظاهراتو لاس پوری کړل او خپل موجودیت یی رابښکاره کړل چی دهمدی گارگری غورځنګ په نتیجه کي د پاکستان بزگرانو هم په شور اوپه طغیان راغلل اوپه همدی وخت کی وه چي دملی عوامی گوندرهبرمولانا باشاني( نوموړی دشرقی پاکستان اوسیدونکی وه چي اوس ورته بنگله دیش وایي ) دټول پاکستان دبزگرانو انجمن جوړ کړ ( Kull Pakistan Kissan Association )اودهمدی کال په موده کی کارگری غورځنګ په لاهور کی په ډیر بیړه او قوت سره سر را اوچت کړل اودغه دفعالیتونولمن د پاکستان په ټول قلمرو کی په غوړیدو راغی ترڅو چی دهمدی غورځنګ دلا فعالیتونو له ډاره جنرال محمد ایوب خان داکتوبر په «۲۶» کال (۱۹۵۸) کی دمارشالا قانون اعلام کړل ترڅو وشی کولای چی ددی گارگری غورځنګ مخه ونیسي .

د چین اود شوروی اتحاد ترمینځ نندارى: له «۱۹۵۶» څخه را وروسته د چین اود شوروی ترمینځ بیروکرتیک کشا لي او نندارى ډیر شد ت وموند کوم چی دهغه په نتیجه کي د کارگری طبقی نړیوال تحریک او جنبش شا ته ولوید ل چي دپوهو کارگرانود تعجب ،حیرانتیا اود بی لاری کید وشرایط برابرکړل اوپه پایله کي نړیوال کارگری جنبش یی په دوو برخو سره وویشل . ددی بورکراتیک دولت بدلون اوتغیرسره سره بیاهم دچین انقلاب په «۱۹۴۵» کي په دی بریالي شو چي په چین کي فیوډالیزم او کپیتالیزم یا سرمایه داری ته ماتي ورکړي اوپرهغه باندی دپاي ټکي کیږدي،اودنړیوال استعماردحیرانتیا اود تشویش د راپیدا کید و سبب وگرځي، اود بلي خوا څخه څرنگه چي پاکستان دچین سره گډی پوله لري نودهمدی امکانیت له سببه دماویزم اندیښنی ،نظریاتو اوباورونه زرترزره پاکستان ته راانتقالیږی اود پاکستان د کارگرانو،ځوانانو او د روشنفکرانواوبیا په ځانگړي ډول د محصیلینو، محصلانو اود زده کونکو په ټولگیو او انجمنونو کی ځان ته ځای پیداکوی اودهغوپه ذهنونو کی ځای نیسي. یو غټ دلیل کوم

چی ماویسم ته د پاکستان دکارگرانو ،روشنفکرانو اودزده کونکو په ذهنونو کی لاره پیدا کړ هغه د ستالین دهغه مهم دوه مرحلوی تیوری څخه د تیښتی اود گریز مثله وه کوم چی خلک یی په دوه لاری اوگمراهی کي غورځولی وه اوبیا خصوصاً په هغه وخت کی چی د انقلاب لمبی او فریادونه د خلکو په زړونو کي خپل لوړو څوکو ته ریسد لی وه پرهغه باندی یخي اوبه واچول شو او انقلابی فعالیتونه د یولړ بی علاقگی سره مخامخ شو سره له هغه چي دچیني اود روسي بیروکراسی تر مینځ کوم لویه تفاوت او دوه رنگي نه سره لیدل کیدل یعنی دواړه بیروکراسی یو ډول بیروکراسي وه یواځی فرق یی داوه چی هغوی هریو خپل د ایدیولوژی شکل اوبنی ته اهمیت ورکول . پیښي او حواد ث پخپله د چین د بروکراسي له مخ څخه پرده راپورته کړ اودهغه اصلي څیره یی را ښکاره اوبربنډ کړ او هغه داچي چیني لوړ پوړي چارواکي او بیروکراتانو جنرال ( چی وروسته پخپله ځان ته د پاکستان د فیلد مارشال لقب ورکړ)ایوب خا ن نظامی دیکتاتور سره خپل بی ساري کمکونه وکړ کوم چی په عین زمان کی شون لای (chou-en-lai) جنرال ایوب خان ته دهغه له شرمه ډک جعلی انتخاباتو په لړ کی چي د څو انتصابي استاذو له طرفه د هیواد دمشر په صفت ټاکل شوی وه مبارکي ورکړ شو اوهم د دواړو هیوادونو دمروداتو او ددوستی په لا ښه کیدو کی دچین د یو تجارتي پلاوی په سرکی ښاغلي نیو چو ( Ne Chu) پاکستان ته سفروکړاوپخپل یوتودیعی خبرو کی نظامی دیکتاتور جنرال ایوب خان یی دخلکو د نماینده اود مشر په صفت یاده کړ . کله چي دهند اود پاکستان تر مینځ په همدی کال کی جنگ شروع کیږی نو دغه جنگ ته چنیا یی بیروکراتانو د خلکو د جنگ نوم ورکوی اوجنرال ایوب خان نظامی شونیست دیکتاتور سره هراړخیز کمک اومرسته کوي اوکله چی دچین لوی درستیز مارشال چون لی(Chun lee) وروسته دپاکستان اودهند تر مینځ جگړی څخه پاکستان ته یورسیمی سفر کوي اوپخپل یورسمي استهزا آمیز اوله حیققت څخه لری وینا کی د جنرال ایوب خان د دولت د موکراسی د چین ددولت دموکراس سره ورته او شبیهه تعریف کوی .

دپاکستا ن مایوستانو د جنرال ایوبخان په ملاتړلاس پوری کړل حتا تردی حده پوری چی د ایوب خان د دولت خارجی سیاسیت یی یومترقی سیاست ومنل او په دی وجهه هغوی د مارکس هغه وینا او نقل قول په خلاف کوم چی د یو هیوادخا رجی سیاست دهغه هیواد دداخلی سیاست دوام دی نه یواځی چی ورته پام وانوړول بلکه هغه یی له سره هیره کړل ،یا داچي حاکمه طبقه دخپل دتسلط ددوام دپاره خپل خارجی سیاست تل دیو ټاکلی داخلی سیاست په رڼا کی ټاکي . مارشال لي (Marshal Lee) وروسته له هغه د خپل خبرو په دوام کی بی له دی چی دهغه خبری دهندوستان په دولت اویا دهغه په کارگری طبقی باندی به څه ناوړی تاثیر وکړی اویا هغه ته سپک وکتل شي داسي په ډاگه کړل چی هندوستانیان ټول یرغلگر دی . په کال «۱۹۶۷» کی هغه چینایی تجارتی پلاوی چی پاکستان ته د حسن نیت په سفز راغلی وه دهغه هیات مشر په یو تودیعی میلمستیا کی چی

دپاکستان له خوا هغو ته نیول شوی وه پخپل یو وینا کی داسي وویل : ( پاکستان د جنرا ل ایوب خان ترمشری لاندی ډیر زراعتی اوهمدارنګه ډیر صنعتی پرمختګونه کړی دی اوهغه ورځ به لری نه وی چي پاکستان دیو مستقل او بشپړه اقتصاد څښتن ونشي )«پاکستان ټایم ۱۹۹۶-۱۰-۲۰». دچین دطبقاتی مرستی سیا ست کوم چی چینایی بیروکراسی په تصویب رسولی وه په پاکستان کی هغه زمان بلکل بربنډ او لوڅ شو . دبلی خوا څخه دشوروی اتحاد بیروکراسی هم په جذری اوپریکړنده بنی سره حتا تردی چی دهندوستان بورژوازی تر خپل حمایت لاندی راوړی خپل نقش ونه لوبول ،اودبلی خوا څخه د ما سکو د کرښی پلویانو هم له خپل خط اولاری څخه واغوښتل کوم چي ددی مطلب د لا روښانه کیدو د پاره بیځایه به نه وی چی دیو کیڼ اړخ میا شتنی مجلی د یو مقالی متن ته پام وانوړوی کوم چی د کیڼ اړخو څو تنو له خوا لیکل شوی اوپه نوموړی مجله کی چاپ شوی دی : داپریل میاشت کال (۱۹۶۴) کی حبیب الله سیګل ،او ولیکاس (Walikas)داسی لیکي : [ زمونږ نوی زیږ بورژوازی دبین المللی بورژوازی دتضاد محصول دی کوم چي دجبری اقتصادی برخی دتکرار له مخی دتجربو دلاسته راوړو په نتیجه کی سرراپورته کړی دی او په عین وخت کی زیاتوی چی د همدغی پالیسی په تعقیب سره به مونږ ته دا چانس تر لاسه شي چی د سوسالیستی په تجارتی بلوک کی ځان ته ځای پیدا کړو نو دهمدی اصل په پیروی سره دابه څمونږ ډیره غټه کړنه وی چی که چیری دجنرال ایوب سره په مخالفت کی دهغه پرمخ چپه دروازه خالص پری نږدو ]. یا ورته مطلب دیو بل سوال په ترڅ کي اوهغه داچي دپرګنو د پوره پوها وی دپاره د دموکراسي پراصل ، ضرورربرینی چی په شوروی اتحا د کی دی دزده کړی مرکزونو اونهادونه باید پرانیستل شي . د ماسکودخط پلویانو خپل چپی هویت څخه لاس پرسرشول اودهغو په اصطلاح سره آزا د مترقی بورژوازی ګوندونو خواته مخه کړل یعنی څه یی دیو بورژوازی او بله ډ له یی د بل بورژوازی په ګوندونوکی داخل شول او هغو داسي وپتیلل چي دعه بورژوازی ګوندونه ډیر مترقی ګوندونه دي اوهغه نور چي څه پاتی وه په دوه جلا برخو یعنی دماسکو پلوو او دپیکنګ پلو په ډلو سره ځان وویشل . دپاکستا ن کیڼ اړخو په دغه موده کي ونشو کړلي چی د پاکستان د بی ساری اقتصادی چټکه ودی اودپرمختیا وړاند وینه وکړي ، په هر صورت وروسته د نړیوا ل دوهمی جګړي څخه په پاکستان کی هم یولړ بد لونونه مینځ ته راغي یعنی داچي پاکستان هم دهغه جګړی تر اغیزی لاندی پریوتل او هغه داچي د لمړی ځل دپاره په نوموړی هیواد کی صنعت سر راپورته کړ او په چټکی سره پرمختګ وکړل یعنی پانګوالي مینځ ته راغلی اودهغه سره جوخته د هغه ضد قوتونه یا دهغه قبرکن (پرولتاریا ) هم مینځ ته راغي په دی وخت کی له دی نه چی دپاکستان چیپانو ددغه نوی کارګری طبقي دقدرت دسمون د پاره انجمن سازمان اویا ګوند جوړ کړي کړی له بی پروایی څخه کار واخیست اوبورزواژی ته شراط مساعد شول چی دغه نو ظهور کارګران شکار کړی او پخپل اتحادیو یا سازمانونو کی

راجذ ب کړی ،چپیانو یواځی اویواځی دځو محدودو شعارونو په ورکو سره اکتفا وکړل او دا دځه دپاره ؟ لمړی داچي انقلابی پیښی او خوزښتونه یا انقلابی توفانونه دهیواد په لر او بر کی په خودشه بڼی سره سر راپورته کړی وه خصوصاً د ( ۶۹-۱۹۶۸) کلونو په موده کی اوداځکه چی ایوب خان دیکتاتور په یوه ډیره ناداره هیواد کی په یو شتمن جمهور ریس اغوښتی وه کوم چی په اصطلاح سره د چپیانو نقاب اغوستي وه .

-----------------------------

دریمه برخه په راتلونکی مقاله کی